مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۶/۱۴

# درپیم ماشوم

## لنډه قصه

په تېر یوه کال کې دا درپیم مړی دئ چې له همدغې چړی څخه را ایستل کېږي. یه، مړی نه. درپیم ماشوم.
د مړو دې توپیر زما ذهن آرام ته نه پرېښود. لویان هره ورځ مري. هغوی له ځان سره خوښۍ، غمونه، خاطرې، دښمنۍ، ارمانونه او ناکامۍ ګور ته وړي. خو داسي ماشومان له دې هر څه تش لاس، حتي یو سم ګور ته هم نه ځي.
دا درپیم ماشوم وو چې د ژوند تازه شروع کړی سفر ئې د ښار د چټلیو، خځلو او ناولو اوبو په منځ کې پای ته رسېدلی وو. زه چې کله دې مردار لښتې ته راورسېدم، خلک وختي لا را ټول سوي ول.

خلک هم عجیبه عادت لري، هر ځای چي غم، پیښه او ناورین وي، هلته ئې زورونه وي چې یو له بله مخکي ور ورسېږي. دوکاندارانو خپل دوکانونه پرې ایښي ول، رخشه چلوونکو خپلي رخشې د سړک په منځ کي درولي وې او لارویان ولاړ ول، د تجسس د آراملو دپاره ئې غاړي پورته پورته د چړی پر خوا کولې. د شا و خوا ماشومان درختو ته ختلي ول څو وګوري چې څه شي دومره خلک را غونډ کړي دي.

ماشوم لا په ورستو اوبو کې پروت وو.تر ټېلو و ټمبو وروسته مې هم ماشوم په اوله پلا صحیح نه کړ.
چړی له پلاستیکي کڅوړو، ورستو پوستکو، ختو او د زرګونو کورونو له چټلیو ډکه وه، ترې د انساني فاضله موادو، ورستو غوښو، خوسا خوړو، کثافاتو او د فاضلابو ګډ تعفن پورته کېدی. ژر مې سترګي پر برابري سوې ، یو وړوکی جسد په دې مردارو اوبو او بوی کې ګیر وو. خدای خبر چې کوم ظالم به دلته غورځولی وي، اول ئې مړ کړی وو بیا ئې غورځولی وو، کې غورځولی وو بیا مړ سوی وو؟

حتما به دا ماشوم د هغو پټو رازونو وروستی پایله وه چې ټول په خبر دي، هغه اړیکي، هغه خوني او هغه معاملي چې د شپې را ژوندۍ سي او د سهار له رڼا سره بیا ورکي سي.هماغه خلک چې د دغو رازونو له حقیقته خبر ول، اوس د چړی پر غاړه ولاړ ول او د پایلو له لیدلو ئې ځانونه حیران ښوول.

له موږ څخه یو نېک بنده ډنډو اوبو ته ور کښته سو او ماشوم ئې په احتیاط را پورته کړ. د سړي له کالیو څخه داسي بوی را پورته سو لکه د ښار ټولي پټي ګناهوي، وراسته ضمیرونه او هېري سوي جنازې چې په یوه ځای کي خوسا سوي وي. له دې چټلي ویالي څخه د ښار تهذیب ماته خوړلي وه.
د ماشوم په څېره کې لا هم یوه عجیبه سپېڅلتیا او ښکلا پاته وه. داسي ښکارېده لکه د لوشو او مردارو اوبو له منځه چي د نیلوفر ګل چا را شکولی وي.

خلک ورته ولاړ ول. ځینو سرونه خوځول. ځینو مخونه اړول، لکه شیطان چي ئې لیدلی وي. او ځینو په وحشت ورته کتل. هماغه وخت مي هغه کلمه واورېده .«ارموني!» غالبا له شا څخه یو چا ږغ کړه.څو شېبې وروسته د مخ په صف کي بل چا هم تکرار کړه. په منځ کي بیا بل چا. بیا بل...بیا بل...

ارموني!
ارموني!
ارموني!

ما د ماشوم کوچني جسد ته وکتل او حیران سوم چي دومره درنه کلمه څنګه د دومره سپک او بېګناه روح پر اوږو اېښوول کېدای سي؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څېر و لولئ

هغه خو دومره ژوند لا و نه کړ چي په خپل غوږ کي اذان واوري. خو ټولني بيا نوم ورته ټاکلی وو.
مور ئي بې نومه وه. پلار ئي بې نومه وو. هغو چي دلته اچولی وو، بې نومه ول. قاتلان بې نومه ول. خو د ماشوم نوم ټولو ته معلوم وو.

ارموني...

خلک قانع ښکارېدل. ځکه نومونه ورکول تر پوښتنو کولو اسانه دي.

پوښتني انسان هندارو ته دروي.او هنداري خطرناکي وي. تريخ حقيقت وايي، ځينو ته خو ښکنځل هم کوي.
يو بل نبک سړي ماشوم په خپل سپين دستار کي ونغاړی د سړک پر غاړه ئي کښېناوه. نورو سمدستي د اخلاقو، دين، عصريتوب او فساد بحثونه پيل کړل.

يوې خوا ښځي ملامتولي. بلي خوا نارينه. ځينو غرب ملامتاوه. ځينو ببوزلي. ځينو دين. ځينو د دين نشتوالی. هر چا جواب درلود. خو مسؤليت او مکلفيت هيڅ چا نه.

ما د هغوی خبري اورېدي او احساس مي کړه چي دوی خو داسي ړغيږي لکه دا ماشوم چي له آسمانه را لوېدلی وي. لکه ټولنه چي له ده سره هيڅ تړاو نه لري. لکه د ده په زېږېدو، پرېښوولو او مرګ کي چي د هيچا ونډه نه وي. ګناهکار پټ ول. بېګناه د خلکو مخي ته پروت وو. وروسته يو چا وويل چي ماشوم بايد ښخ کړي.

چيري؟ د هديري په يوه ګوښه برخه کي. په يوه نا معلومه کنجک کي. بې له ګلونو. بې له کيسو. بې له ژړا.
يوازي پردي خلک به د هغه د ژوند وروستي مراسم سرته رسوي، هغه ژوند چي کوم چا په ښه راغلاست کي مسکا هم نه وه ورته کړې.

ورو ورو خلک خپرېدل. تماشه پای ته رسېدلي وه. دوکانونه بېرته خلاص سول. موټران بېرته روان سول. لکه هيڅ چي نه وي سوي.

زه لا هم د چرې پر څنډه ولاړ وم.

کوچنی به تر ماښامه ښخ سوی وي. تر راتلونکي اوونۍ پوري به زياترو کسانو هېر کړی وي. بله مياشت به ئي قبر يوازي ښايي د ګورکن په ياد وي. بد بخته مور بې هيڅکله خبره نه سي چي کوچنی ئې چيري پټ دئ. ښايي پلار ئي هيڅکله خبر نه سي چي ګناه ئي تر کومو خاورو لاندي ده.

ښار به نوي کيسي پيدا کړي. انسان عجيبه وړتيا لري، هر څه هېرولای سي، په ځانګړي توګه هغه څه چي د وجدان دروازه ئي ور ټک وهلي وي.

لمر لوېدی، سيوری اوږدېدی. ما د راروانې شپې څخه کرکه احساس کړه. څومره جنايتونه به بيا په دې کي وسي؟ څومره نور ماشومان به بې هويته له نړيه وباسي. بيا مي شپه بېچاره هم درک کړه چي د هغې ئي څه ګناه. شپه يوازي هغه څه پټوي چي ورځ ئي د ليدلو جرئت نه لري. اصلي تياره بل ځای ده. په هغه ټولنيز نظام کي چي د انسان تر ژوند د نوم او آبرو ساتنه مهمه ګني.

کله چي له هغه ځايه روانېدم، يوه ناممکنه هيله راسره وه. کاش زه تياره کېدای سوای. نه هغه تياره چي جرمونه پټوي. هغه تياره چي کورونو ته ننوځي. و جرم ته، د آماده خلکو تر څنګ کښېني، چار چاپېره پر راګرځي، په غوږو کي سرګوشي ورکوي او د دې لاري وروستۍ پايلي وروښيي. چرې! خلک! خنداوي! ټوکي! ريشخند! بې نامه قبر! دا درېيم ماشوم وو. ښار لومړی هېر کړی وو. دوهم ئي هم هېر کړی وو. او ډېر ژر به درېيم هم هېر کړي. يوازي بې چرې په ياد ساتي.

او هغه به د ښار له منځه د انسان د مرداريو د يوه تور تاريخ په څېر دم دم روانه وي، رازونه به وړي، تر هغو چي د کوم دښت، چي ژبه نه لري، په سينه کي فنا کېږي.

محمدسميع صادق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ